# د حضرت میکاه نبی کِتاب ـ ماخذ انبیاء

## پېژندګلو

د حضرت میکاه په کِتاب کښې د خُدائ پاک د کردار دوه زبردست اړخونه څرګندېږی یعنې د هغۀ عدالت او د هغۀ رحم. مالِک خُدائ غواړی چې د هغۀ خلق په اِنصاف، وفادارئ او په مینه عمل وکړی. مذهبی رسومات ادا کول دومره اهمیت نۀ لری څومره چې په خالص زړۀ سره د خُدائ پاک عبادت کول اهمیت لری. حضرت میکاه په هغه وخت کښې پېشګویانې وکړې کله چې په یهوداه کښې د یوتام او د هغۀ پسې د احاز حکمرانی وه او هم په هغه وخت کښې حضرت یشعیاه نبی خپل فرائض ادا کول. دا د خوشحالئ دور وو، او حضرت میکاه د دولتمندو خلاف آواز اوچت کړو چا به چې په غریبانانو ظلم کولو. او د راتلونکی عدالت په حقله یې خبردارے ورکړو. په دې کِتاب کښې دوه حصې دی چې په یوه کښې خبردارے دے او په بله حِصه کښې د اُمید پېغام دے. د راتلونکی وخت په حقله حضرت میکاه نبی دوه ډېرې اهمې پېشګویانې وکړې. هغۀ اوله پېشګوئې دا وکړه چې په راتلونکی وخت کښې به امن قائم شی د هغه مُلکونو په مینځ کښې چې په کښې جنګونه وُو او یو داسې وخت به راشی چې هغوئ به خپلې تُورې وټکوی او یوې به ورنه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جوړې کړی. نو دا د امن شیبې به صرف د هغه خاص ذات
په روح او طاقت کښې ممکن وی څوک به چې د بیت‌لحم په
وړه ښاریه کښې پیدا کیږی. دا پیشګوئې به د بیت‌لحم په
ښاریه کښې د حضرت عیسیٰ په پیدایښت کښې اووۀ سوه
کاله وروستو پوره کېده. د حفظ کولو دپاره ۸:۷ آیت ”اګر
کۀ زۀ په تیارۀ کښې ناست یم، خو مالِک خُدائ به زما رڼا
وی.“

١ (١) د مالِک خُدائ پیغام چې د مورشیت میکاه باندې د
یوتام، احاز او حزقیاه د حکومت په دوران کښې نازل شو،
چې د یهوداه بادشاهان وُو. هغه رویا چې هغۀ د سامریه او
یروشلم په حقله ولیده. (٢) اے ټولو خلقو تاسو واورئ، اے
زمکې او ټولو خلقو چې په دې کښې یئ، غوږ ونیسئ، مالِک
خُدائ پاک دې ستاسو خِلاف د خپل مقدس کور نه ګواهی
ورکړی، (٣) ګورئ، مالِک خُدائ راروان دے، هغه په
آسمان کښې خپل تخت پرېږدی او د زمکې اوچت ځایونه د
پښو لاندې کوی. (٤) غرونه د هغۀ لاندې ویلی کیږی، او
وادیٔ په مینځ شلیږی، څنګه چې موم د اور په وړاندې ویلی
کیږی، څنګه چې اوبۀ د اوچت ځایونو نه لاندې راځی. (٥)
او دا هر څۀ ولې پیښ شول؟ ځکه د اِسرائیل د سرکشیٔ په
وجه، آو، دا د ټول قوم د ګناهونو په وجه وشول. د اِسرائیل د
سرکشیٔ ذمه وار څوک دی؟ سامریه، دا لوئ ښار دے. د
یهوداه د بُت پرستیٔ ځایونه چرته دی؟ په یروشلم کښې، دا
لوئ ښار دے. (٦) نو په دې وجه به زۀ سامریې نه د کنډرو
ډیرے جوړ کړم، یو داسې ځائ چې د انګورو بوټی به په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې کَرلے شى. زۀ به د دې دېوالونو کانړى وادۍ ته
وغورزوم او د دې بنيادونه به ښکاره کړم. ۷ د دې ټول
بُتان به ټوټې ټوټې شى، او د هغې د کنجرتوب ټوله ګټه به
وسوزولې شى. زۀ به د هغوئ د عبادتخانو ټول بُتان تباه کړم.
ځکه چې هغې دا هر څۀ د خپل کنجرتوب په ګټه حاصل
کړى دى، اوس به دا هر څۀ د هغې نه واخستے شى او نورو
کنجرو ته به په مزدورى کښې ورکړے شى.

## ژړا او ماتم

۸ په دې وجه به زۀ ماتم وکړم او د غم مرثيه به ووايم، زۀ
به پښې ابلې پښې او برېنډ وګرځم. زۀ به لکه د ګيدړ په شان
وکونړېږم او لکه د ګونګى په شان به چغې ووهم. ۹ نو د
هغې زخمونه لا علاجه دى. دا يهوداه ته هم راغلو. دا زما د
خلقو نزدې دروازې پورې راورسېدو، تر دې چې يروشلم ته
راورسېدو. ۱۰ دا په جات کښې دشمن ته مۀ وايئ، او مۀ
ژاړئ. په بيت‌عفره کښې په خاورو کښې ورغړېږئ. ۱۱
برېنډ او د شرم سره دلته نه تېر شئ، تاسو څوک چې په
سفير کښې اوسېږئ. هغوئ څوک چې په ضنان کښې
اوسېږى هغوئ به بهر نۀ راوځى. بيت‌ايضل په خپله په غم
کښې دے، ستاسو د حفاظت اُميد ختم شو. ۱۲ هغه څوک
چې په ماروت کښې اوسېږى او په مايوسۍ سره د مدد په
طمع دى، ځکه چې د مالِک خُدائ نه افت نازل شوے دے،
او د يروشلم دروازې پورې رارسېدلے دے. ۱۳ تاسو څوک
چې په لکيس کښې اوسېږئ، په آسونو پسې جنګى ګاډۍ
وتړئ. تاسو د صيون لور دپاره د ګناه سرچينه وئ، ځکه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د بنی اِسرائیلو جرمونه هم په تاسو کښې موجود وُو. ١۴
نو په دې وجه به تاسو موریشت‌جات ته د خُدائ په امانۍ
تحفې ورکړئ. د اکزیب ښار به د اِسرائیل د بادشاهانو دپاره
دوکه ثابته شی. ١۵ د مریسه اوسېدونکو، زهٔ به یو فتح
کوونکے ستاسو خلاف درولېږم. هغه څوک چې د اِسرائیل
مشران دی، هغه به د عدولام غار ته وتښتی. ١۶ خپل سرونه
په ماتم کښې ګنجی کړئ د هغه بچو دپاره چا نه چې تاسو
خوشحاله یئ، خپل ځانونه بلکل ګنجی کړئ، ځکه چې هغوئ
به تاسو نه جلاوطن شی.

## د انسان بېِ‌اِنصافی او خُدائ پاک

٢ ١ افسوس په هغوئ باندې څوک چې د بې‌اِنصافۍ
منصوبې جوړوی، په هغوئ چې په خپلو کټونو کښې د بدو
منصوبو خوبونه ګوری. د سحر په رڼا کښې هغوئ دا پوره
کوی ځکه چې د دې کول د دوئ په اختیار کښې دی. ٢
چې هغوئ د پټو په لالچ کښې راشی نو قبضه یې کړی، او
چې د کورونو په لالچ کښې راشی نو دا ونیسی. هغوئ د خلقو
نه خپل کور په دوکه اخلی، او رشته‌دار د وراثت نه
محروموی. ٣ نو په دې وجه مالِک خُدائ فرمائی چې، زهٔ
د دې قوم خلاف د تباهۍ منصوبه جوړوم، د دې نه به تاسو
ځان خلاص نهٔ کړئ. تاسو به نور په غرور کښې نهٔ ګرځئ،
ځکه چې دا به د افت وخت وی. ۴ په هغه ورځ به خلق تا
پورې خندا کوی، هغوئ به تا ته پېغور درکوی د غم په دې
مرثیی کښې، ”مونږ مکمل تباه شُو، زما د قوم ملکیت تقسیم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شو. مالِک زمونږ جائیداد اخستے دے او هغه یې غدارانو له
ورکړے دے." ۵ نو ځکه په تاسو کښې به هیڅوک د
مالِک خُدائ په مجلس کښې نۀ وی چې زمکه په پچه تقسیم
کړی.

## د دروغو پېغمبران

۶ "پېشګوئي مۀ کوه،" د خلقو پېغمبران وائی، "د دې
څیزونو په حقله پېشګوئي مۀ کوه، شرم به مونږ ګېر نۀ
کړی." ۷ اے د یعقوب قومه، آیا داسې خبره کول په کار
دی، آیا د مالِک خُدائ روح غصه دے؟ آیا هغه داسې کارونه
کوی؟ آیا زما کلام ښۀ نۀ دے د هغوئ دپاره د چا لارې چې
نېغې دی؟ ۸ تر ننه پورې زما خلق لکه د دشمن غوندې
زما خلاف راپاڅی. تاسو د هغوئ د اوږو نه قیمتی چُوغه
وباسئ څوک چې په تاسو باور کوی، او لکه د هغه سړو په
شان یې بربنډهوئ لکه څوک چې د جنګ نه راواپس شی.
۹ تۀ زما د قوم ښځې د خپلو ښائسته کورونو نه شړې. تۀ
د هغوئ د بچو نه د تل دپاره زما نعمتونه اخلې. ۱۰ پاڅه
دلته نه څه، ځکه چې دا ستا د آرام ځائ نۀ دے، ځکه چې دا
پلیت دے، دا تباه شوے دے، دلته ستا دپاره علاج نشته. ۱۱
کۀ یو دروغژن او دوکه باز راشی او وائی، "زۀ به تاسو دپاره
د میو او د شرابو پېشګوئي وکړم،" هغه به د دې خلقو دپاره
بلکل صحیح پېغمبر وی.

## د خلاصون وعده کول

۱۲ زۀ به یقیناً تاسو ټول راغونډ کړم، اے د یعقوب اولاده،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زۀ به يقيناً د بنى اِسرائيل ژوندى پاتې شوى خلق رايوځائ
کړم. زۀ به هغوئ داسې رايوځائ کړم لکه ګډې چې شپول ته
رايوځائ کيږى، لکه چې رمې د خپل څرن ځائ کښې وى،
هغه ځائ به د خلقو نه ډک وى. ۱۳ څوک چې لاره کولاو
کړى هغه به د هغوئ نه مخکښې روان وى، هغوئ به دروازې
ماتې کړى او بهر به وځى. د هغوئ بادشاه به د هغوئ نه
مخکښې روان وى، مالِک خُدائ به د هغوئ رهنمائى کوى.

## مشران او پېغمبران ورټلے شول

۳ ۱ بيا ما ووئيل، غوږ شئ، اے د يعقوب مشرانو، اے د
اِسرائيل حکمرانانو. آيا تاسو په اِنصاف نۀ پوهېږئ، ۲
تاسو چې د نېکئ نه نفرت او د بدئ سره مينه کوئ، څوک
چې زما د قوم نه څرمن وباسئ او د هغوئ د هډوکو نه
غوښه لرى کوئ، ۳ تاسو چې زما د قوم غوښې خورئ، د
هغوئ نه څرمن وکاږئ او د هغوئ هډُوکى ټوټې ټوټې کوئ،
څوک چې هغوئ لکه د کړى د غوښې په شان ټوکړې کوئ،
يا يې لکه د ديګ د غوښې په شان کوئ. ۴ بيا به هغوئ
مالِک خُدائ ته چغه کړى، خو هغه به هغوئ ته جواب ورنۀ
کړى. په هغه وخت کښې به هغه خپل مخ د هغوئ نه پټ
کړى د هغه بدو عملونو په وجه چې هغوئ کړى دى. ۵
مالِک خُدائ دا فرمائى چې، هغه پېغمبران چې څوک زما
خلق بې‌لارې کوى، کۀ څوک په هغوئ څۀ وخورى نو هغوئ
د امن اعلان کوى، خو کۀ هغه دا نۀ شى کولے، نو دوئ د
هغۀ خلاف د جنګ کولو تيارے کوى. ۶ نو په دې وجه به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په تاسو شپه راشی، چې بغېر د رویا به وی، او تیارهٔ به راشی
چې بغېر د پېشگویۍ به وی. نمر به ښکته شی د پېغمبرانو
دپاره، او ورځ به د هغوئ دپاره تیارهٔ شی. ٧ رویا کتونکی
به وشرمیږی او قسمت ښودونکی به بې‌عزته شی. هغوئ ټول
به خپل مخونه پټ کړی ځکه چې د خُدائ پاک د طرف نه
ورته جواب نهٔ ملاویږی. ٨ خو زهٔ په خپله د قدرت نه، د
مالِک خُدائ د روح نه، او د اِنصاف او د قوت نه معمور یم،
چې یعقوب ته خپل جرمونه، او بنی اِسرائیلو ته خپله گناه
وښایم. ٩ دې ته غوږ شئ، اے د یعقوب د قوم مشرانو، او
د اِسرائیل د قوم حکمرانانو، څوک چې اِنصاف نه نفرت
کوئ او هغه هر څهٔ غلطوئ چې صحیح وی، ١٠ څوک چې
صیون په قتل عام جوړَوئ، او یروشلم په بدعملۍ جوړَوئ.
١١ د دې حکمرانان په رشوت اخستو عدالت کوی، د دې
اِمامان په پېسو تعلیم ورکوی، او د دې پېغمبران په پېسو
پېشگوئې کوی، او په مالِک خُدائ د باور کولو دعویٰ کوی
خو په حقیقت کښې په هغهٔ باور نهٔ کوی، او داسې وائی چې،
”آیا مالِک خُدائ زمونږ په مینځ کښې نهٔ دے؟ په مونږ به هیڅ
افت رانهٔ شی.“ ١٢ نو ځکه ستاسو په وجه، صیون به لکه د
پټی غوندې یوه کړے شی، یروشلم نه به د کنډر یو ډېرے
جوړ شی، او د خُدائ پاک د کور په غر به گڼ ځنگل وشی.

## د مالِک خُدائ غر

۴ ١ په آخری ورځو کښې به د مالِک خُدائ د کور غر
آباد شی او دا به په ټولو غرونو کښې مشر وی، دا به د غرونو
دپاسه اوچت شی، او د ډېرو قومونو خلق به ورته راشی. ٢

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ډېر قومونه به راشي او وائي به، ”راځئ چې بره د مالِک
خُدائ غر ته لاړ شُو، د يعقوب د خُدائ پاک کور ته. هغه به
مونږ ته خپلې طريقې وښائي، نو چې مونږ د هغۀ په لار روان
شُو.“ شريعت به صيون نه راوځى، او د خُدائ پاک کلام به
د يروشلم نه راشي. ۳ هغه به د ډېرو قومونو په مينځ کښې
عدالت وکړى، او د لرې او نزدې مضبوطو حکومتونو لانجې
به فېصله کړى. هغوئ به خپلې تُورې وټکوى او يوې به ورنه
جوړې کړى او د خپلو نېزو نه به د بوټو قينچيانې جوړې
کړى. قوم به د قوم خلاف تُوره نۀ اوچتوى، او نۀ به هغوئ د
جنګ کولو تربيت حاصلوى. ۴ هر يو کس به د خپل
انګور د بوټى لاندې او د خپلو اينځرو د ونو لاندې کښېنى، او
څوک به هم هغوئ ونۀ وېروى. ځکه چې دا مالِک خُدائ ربُ
الافواج فرمائيلى دى. ۵ هر يو قوم به د خپلو معبودانو په
نوم روان وى، خو مونږ به د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک
په نوم د تل دپاره روان يُو.

## د مالِک خُدائ منصوبه

۶ ”په هغه ورځ،“ مالِک خُدائ فرمائى چې، ”زۀ به ګوډيان
راغونډ کړم، زۀ به جلاوطن شوى راجمع کړم او هغوئ چې
ما ورته غم و درد رسولے وو. ۷ زۀ به د ماتو ګوډو او د
هغوئ نه څوک چې جلاوطن کړے شوى دى يوه ډله بچ کړم
چې يو مضبوط قوم ترې جوړ کړم. زۀ مالِک خُدائ به په
هغوئ د هغې ورځ نه واخله د تل دپاره د يروشلم نه حکومت
کوم.“ ۸ او ترخو چې تۀ يې، اے د رمې حفاظت کوونکيه،
اے د صيون لور مضبوطې قلعې، پخوانے حکومت به تا ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بيا مِلاو شی، او بادشاهت به بيا يروشلم لور ته مِلاو شی. ٩
تهٔ اوس دومره په چغو ولې ژاړې، آيا ستا بادشاه نشته؟ آيا
ستا مشيران مړهٔ شوی دی، درد تهٔ داسې گېر کړے يې لکه
چې ښځه د ماشوم د پېدا کېدو په درد کښې وی؟ ١٠ اے د
صيون لورې، داسې د درد نه چغې او ټوپونه ووهه، لکه چې
ښځه د ماشوم پېدا کېدو په وخت وهی، ځکه چې اوس به
تاسو خامخا ښار پرېږدئ او په کولاو مېدان کښې به
اوسېږئ. تهٔ به بابل ته لاړه شې، خو تهٔ به هلته بچ کړے شې.
هلته به مالِک خُدائ تا د خپلو دشمنانو د لاسونو نه د تاوان
په بدله را آزاده کړی. ١١ نو اوس ډېر قومونه ستا خِلاف
راغونډ شوی دی. هغوئ وائی، ”پرېږدئ چې هغه بېعزته شی،
او پرېږده چې زمونږ سترگې په شوق سره صيون ته
وگوری.“ ١٢ خو دوئ ته د مالِک خُدائ د سوچونو پته
نشته، هغوئ ته د هغهٔ د منصوبې پته نشته، هغه هغوئ درمند
ته لکه د گېډو په شان راغونډوی. ١٣ پاڅه او مُلکونه غوبل
کړه، اے صيون لورې، ځکه چې زهٔ به تا له د اوسپنې ښکر
درکړم، زهٔ به تا ته د پيتلو نوکونه درکړم او تهٔ به ډېر قومونه
ټوټه ټوټه کړې. تهٔ به د هغوئ هغه مال چې په ظلم زياتی يې
حاصل کړے دے مالِک خُدائ ته وقف کړې او د هغوئ
دولت به د ټولې دُنيا مالِک ته پيش کړې.

٥ ١ خپل فوج راغونډ کړه، اے د فوجيانو ښارېې، ځکه
چې زمونږ خلاف محاصره شوې ده. هغوئ به د اِسرائيل
مشر په چوکې سره په مخ ووهی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د بیتلحم نه وعده کړے شوے حکمران

۲ خو تهٔ، اے د بیتلحم اِفراته، اګر کۀ تهٔ د یهوداه په قبیلو
کښې وړه یې، خو تا نه به ما دپاره هغه راشی څوک چې به د
اِسرائیل سردار وی، د هغهٔ نسب زوړ دے، او د پخوانۍ
زمانې نه راروان دے. ۳ نو بنی اِسرائیل به تر هغه وخته
پورې خپلو دشمنانو ته پرېښودلے شی ترڅو چې د یوې
اُمیدوارې ښځې د ماشوم د پیدا کېدو وخت پوره شی. او
چې د هغهٔ نور وروڼه د بنی اِسرائیلو سره د اِتحاد کولو دپاره
راواپس شی. ۴ هغه به د خپلو رمو د شپونتوب دپاره
ودرېږی د مالِک خُدائ په طاقت سره، د مالِک خپل خُدائ
پاک د نوم په رُعب سره. او هغوئ به په امن سره اوسیږی،
نو بیا به د هغهٔ عظمت د دُنیا آخری حدونو ته ورسیږی. ۵
او هغه به د هغوئ سلامتیا سرچینه وی.

## خلاصون او سزا

کله چې اسوریان زمونږ په مُلک حمله وکړی او زمونږ په
پَخو دېوالونو راواوړی، مونږ به د هغوئ خلاف د قوم اووهٔ
مشران، او ورسره اتهٔ حکمرانان هم راوچت کړُو. ۶ هغوئ
به د تُورې په زور د اسوریې په مُلک، او د نمرود په مُلک به د
تُورې په زور حکومت کوی. هغه به مونږ د اسوریانو نه
خلاص کړی کله چې هغوئ زمونږ په مُلک باندې حمله
وکړی او زمونږ سرحدونو ته راننوځی. ۷ د یعقوب پاتې
شوی خلق به د ډېرو قومونو په مینځ کښې لکه د مالِک خُدائ
د رالیږلے شوې پرخې یا په واښو د باران په شان وی، کوم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د انسان انتظار نۀ کوی او نۀ د انسان دپاره ايسارېږی.
٨ د يعقوب پاتې شوی به د قومونو په مينځ کښې وی، د
ډېرو قومونو په مينځ کښې، لکه چې شير د ځنګلی ځناورو په
مينځ کښې وی، يا لکه چې ځوان شير د ګډو د رمو په مينځ
کښې وی، چې دے روان وی نو په پنجه وهل کوی او ماتول
کوی، او هيڅ څوک ترې نه ځان نۀ شی بچ کولے. ٩ تاسو
به په کاميابۍ سره په خپلو دشمنانو بريالی شئ، او ټول
دشمنان به مو تباه شی. ١٠ ”په هغه ورځ،“ مالِک خُدائ
فرمائی، ”زۀ به ستاسو آسونه تباه کړم ستاسو په مينځ کښې
او ستاسو جنګی ګاډۍ به ختمې کړم. ١١ زۀ به ستاسو د
مُلک ښارونه تباه کړم او ستاسو ټولې مضبوطې قلعه ګانې
به راوغورزوم. ١٢ زۀ به ستا جادوګر تباه کړم او ستاسو په
مينځ کښې به فالګر نور نۀ وی. ١٣ زۀ به ستاسو تراشلے
شوی بُتان او مقدس کاڼی ستاسو مينځ نه تباه کړم، تاسو به
نور د خپل لاس جوړ شوی څيزونو ته سجده نۀ کوئ. ١٤
زۀ به ستاسو د مينځ نه د اشيرې بُت ستنې راوکاږم او
ستاسو ښارونه به تباه کړم. ١٥ زۀ به انتقام واخلم په غصه
او قهر کښې د هغه قومونو نه چې زما حُکم يې نۀ دے
منلے.“

## د خُدائ پاک مقدمه د بنی اِسرائيلو خلاف

٦ ١ هغې ته غوږ شئ څۀ چې مالِک خُدائ فرمائی،
ودرېږه، خپله مقدمه د غرونو د وړاندې بيان کړه، پرېږده چې
غرونه واوری چې تۀ څۀ وائې. ٢ واورئ، اے غرونو، د
مالِک خُدائ اِلزام، تاسو غوږ ونيسئ. غوږ شئ، اے د زمکې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ابدی بنیادونو. ځکه چې مالِک خُدائ د خپلو خلقو خلاف
مقدمه کړې ده، هغه د بنی اِسرائیلو خلاف جرم لګوی. ۳
"زما خلقو، ما تاسو سره څهٔ کړی دی؟ ما په تاسو څهٔ بوج
اچولے دے؟ ما له جواب راکړئ. ۴ ما تاسو د مِصر نه
بهر راوویستئ، او ما تاسو د غلامئ د مُلک نه آزاد کړئ. ما
موسیٰ سره د هارون او مریم درولیږل چې ستاسو لارښودنه
وکړی. ۵ اے زما خلقو، هغه وخت رایاد کړئ چې بلق د
موآب بادشاه تاسو ته د نقصان رسولو کوشش کولو او بعور
د بلعام زوئ څهٔ جواب ورکړو. رایاد کړئ خپل سفر د
شطیم نه تر جِلجال پورې، نو تاسو ته به د مالِک خُدائ د
صداقت کارونه معلوم شی." ۶ "زهٔ د څهٔ سره د مالِک
خُدائ د وړاندې راشم او د لوئ خُدائ پاک په وړاندې سجده
وکړم؟ آیا زهٔ د هغهٔ په وړاندې د یو کلن سخو د سوزېدونکو
قربانو سره راشم؟ ۷ آیا مالِک خُدائ به په زرګونو ګډانو،
او د زیتُونو د تیلو په زرګونو نِهرونو خوشحاله شی؟ آیا زهٔ
خپل وړومبے پیدا شوے ماشوم د خپلو ګناهونو دپاره پیش
کړم، او د خپل بدن میوه د خپل روح د ګناهونو دپاره؟" ۸
هغهٔ تاسو ته ووئیل، اے انسانه، چې ښېګړه څهٔ ته وائی، او
مالِک خُدائ درنه څهٔ غواړی، یعنې چې اِنصاف کوئ او د
رحم سره مینه کوئ او د خپل مالِک خُدائ سره په عاجزئ
سره تلل کوئ.

## د بنی اِسرائیل ګناه او سزا

۹ غوږ شئ، مالِک خُدائ ښار ته آواز کوی. او ستا د نوم
نه یرېدل حکمت دے. "په هغه چوکه غور وکړئ او په هغهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هم چا چې مقرر کړې ده. ۱۰ آيا زۀ د بدعمله په کور کښې
په بدعملئ سره ګټلے شوې خزانې هېرې کړم، او هغه کم
ناپ تول چې پرې لعنت شوے دے؟ ۱۱ آيا زۀ هغه سړے
بې‌سزا پرېږدم څۀ چې په تول کښې بې‌ايمانى کوى، او ورسره
د غلط وزن تيلئ وى؟ ۱۲ د هغې مالداره خلق ظالمان دى،
د هغې خلق دروغژن دى او د هغوئ ژبې د دوکې خبرې
کوى. ۱۳ نو بيا ستاسو د ګناهونو په وجه ما ستاسو تباه
کول، او ورانول شروع کړل. ۱۴ تاسو به خوراک وکړئ،
خو ماړه به نۀ شئ، او ستاسو خېټه به اوس هم تشه وى.
تاسو به څيزونه جمع کړئ خو څۀ به بچ نۀ کړئ، ځکه چې
تاسو څۀ جمع کوئ هغه به زۀ په تُوره ووهم. ۱۵ تاسو به
غله وکَرئ، خو فصل به ونۀ رېبئ، تاسو به د زيتُونو نه تېل
وباسئ خو دا به خپل ځان دپاره استعمال نۀ کړئ، تاسو به
انګورو نه مے وباسئ، خو مے به ونۀ څښئ. ۱۶ تاسو د
عُمرى بادشاه خراب قانون او د اخى‌اب د قوم ټول خراب
رسمونه اختيار کړى دى. نو په دې وجه به زۀ تاسو بلکل تباه
و برباد کړم او نورو خلقو ته به مو د عبرت يو مثال
وګرځوم. څوک هم چې تاسو ګورى ستاسو نه به کرکه کوى
او درپورې به مسخرې کوى.“

## د بنى اِسرائيلو بدبختى

۷ ۱ زۀ څومره بدبخته يم، زۀ د هغه مېوه راټولونکى په
شان يم چې د فصل د راټولولو نه وروستو د خوړلو دپاره
هيڅ څيز پيدا نۀ کړى. نۀ د انګورو يوه غنچه د انګورو په باغ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې او نهٔ د اینځر یو تازه دانه چې خپله لوږه ورباندې ماته
کړی. ۲ مؤمنان د دُنیا نه ختم کړے شول، یو نېک هم پاتې
نهٔ شو. ټول انسانان په دې انتظار کښې دی چې وینه توئ
کړی، هر یو خپل ورور په جال کښې راګېروی. ۳ د هغوئ
دواړه لاسونه په غلطو کارونو کښې تکړه دی، حکمرانان
تحفې غواړی، قاضیان رشوت قبلوی، زورَور هغه حکم کوی
چې څهٔ یې خوښ وی. دوئ ټول یو ځائ سازشونه کوی.
۴ د هغوئ د ټولو نه ښهٔ هم لکه د ازغن بوټی په شان دے،
د هغوئ ډېر نېکان د ازغن بوټو د ډېری نه هم خراب دی. خو
ستاسو د فېصلې ورځ راغلې ده، ستاسو د سزا او وارخطایۍ
وخت رارسېدلے دے. ۵ په خپل ګاونډی باور مهٔ کوه، مهٔ
په خپل دوست اعتبار کوه. تر دې چې ځوک ستا په غېږ
کښې اودهٔ کیږی هغې سره هم په خپلو خبرو کولو کښې
خیال کوه. ۶ ځکه چې نن سبا زوئ د پلار بې‌احترامی
کوی، او لور د خپلې مور خلاف راپاڅی، اِنږور د خپلې
خواښې مخالفت کوی. او د سړی دشمنان به د هغهٔ د خپل
کور خلق وی. ۷ خو زهٔ به د مالِک خُدائ په امداد نظر
ساتم، زهٔ د خپل خلاصونکی خُدائ پاک انتظار کوم، زما
خُدائ پاک به زما واوری.

## بنی اِسرائیل به راوچت شی

۸ ما ته په حسرت سره مهٔ ګوره، زما دشمنه، اګر کهٔ زهٔ
غورزېدلے یم، زهٔ به بیا راوچت شم. اګر کهٔ زهٔ په تیارهٔ کښې
ناست یم، خو مالِک خُدائ به زما رڼا وی. ۹ ځکه چې ما
د هغهٔ خلاف ګناه کړې ده، نو زهٔ به د مالِک خُدائ قهر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وزغمم، ترڅو چې هغه زما د مقدمې وکالت وکړی او زما
حق قائم کړی. هغه به ما بهر رڼا ته راولی، زۀ به د هغهٔ
صداقت وګورم. ۱۰ بیا زما دشمنان به دا وګوری او دوئ
به وشرمیږی، هغه چا چې ما ته ووئیل چې، ”مالِک خُدائ
ستا خُدائ پاک چرته دے؟“ زما سترګې به د هغې بربادی
وګوری، اوس به هغه داسې د پښو لاندې شی لکه په کوڅو
کښې چې ختې وی. ۱۱ ستا د دېوالونو جوړولو دپاره ورځ
به راشی، په هغه ورځ به ستا سرحدونه لوئ شی. ۱۲ د ډېرو
ځایونو نه به خلق ستا د عزت کولو دپاره راشی د اسور نه
واخله د مِصر ښارونو پورې، او د مِصر نه واخله د فرات
سیند پورې، او د لرې سمندرونو او غرونو پورې. ۱۳ زمکه
به د اوسېدونکو په وجه او د هغوئ د بدو عملونو په نتیجه
کښې د خلقو نه شاړه شی.

## دُعا او شُکر ګزاری

۱۴ اے مالِکه، د خپلو خلقو شپونتوب په خپلې لښتې سره
وکړه، په خپله برخه رمې څوک چې د زرخیزه زمکې په مینځ
کښې په ځنګل کښې اوسیږی، هغوئ پریږده چې لکه د پخوا
په شان په بسن او جِلعاد کښې وڅریږی. ۱۵ بیا مالِک
خُدائ فرمائی چې، ”د هغه ورځو په شان کله چې تاسو د
مِصر نه راووتلئ، زۀ به هغوئ ته خپلې معجزې وښایم.“ ۱۶
قومونه به وګوری او حیران به شی، هغوئ به د خپل ټول زور
نه محروم شی. هغوئ به ګوته په خولهٔ ودریږی او هغوئ به
هیڅ نۀ اوری. ۱۷ هغوئ به لکه د مار خاوره وخوری، لکه د
هغه مخلوق چې په زمکه په سینه ښویږی. هغوئ به په رپېدو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بهر د خپل غارونو نه راوځی، هغوئ به د یرې نه مالِک خُدائ
زمونږ خُدائ پاک ته راوګرځی او تا نه به یریږی. ۱۸ ستا په
شان خُدائ څوک دے چې په خپلو غوره شوو کښې د بچ
شوو خلقو جرمونه معاف کړی او د هغوئ ګناهونه نظر انداز
کوی؟ ستا غصه د همېشه دپاره نۀ وی، خو تۀ په رحم ښودلو
خوشحالیږې. ۱۹ تۀ به بیا په مونږ باندې مهربانه شې، تۀ به
زمونږ ګناهونه د پښو لاندې کړې او زمونږ ټولې بې اِنصافئ به
د سمندر ببخ ته وغورزوې. ۲۰ او د یعقوب اولاد ته به تۀ
خپل رحم وښائې، تۀ به د اِبراهیم اولاد ته رښتونے یې، څنګه
چې تا په تېر وخت کښې زمونږ پلار نیکۀ سره وعده کړې ده.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © یوسفزی ۲۰۱۹
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.